# خپل کره لغات مه پردي کوئ

د پښتو په ژوندون کښې خو د دې ژبې د لغاتو او کلماتو ټولونه او احياء په اتفاق د پوهانو يو مهم او ضروري کار دئ. څو د ژبې مواد راغونډ نسي تر هغو ژبه په حقيقي ډول سره نسي ژوندۍ کېداى.

د لغاتو او کلماتو په اصل کښې خو ډېره پلټنه پکار ده، چې د پردو ژبو لغات بېل سي او د پښتو کره او خپل لغات هم وروسته تر څېړني او پلټني واخيستل سي او وساتل سي.

له ډېرو پېړيو څخه د پرديو ژبو برى او کامراني او د دغو ژبو ادبي او علمي اقتدار او بيا هم رسميت د پاړسي ژبې دئ، چې زموږ ژبه ئې له هري خوا څخه زموله کړې ده، او خپلي ډېري ښېګړي ئې د پرديو د غلبې له پلوه بايللي دي، او اوس يوه ادبي خازګي پر دې ژبه طاري ده.

مګر د پښتو ژبې هغه خپل فطري ارتوالی او ذاتي وسعت دئ چې تر اوسه ئې د پرديو په مقابل کښې ځان ساتلی او له ورکېدو څخه ئې ژغورلی دئ.

پر دې ژبه ډېري توري دورې راغلي دي، قلم او اقتدار د نورو په لاس کښې وْ، دوی هيڅکله نه غوښته چې يوه کلمه د دې ژبې په علم او اجتماع کښې برخه ولري، نو ډېر پښتو نومونه او کلمات د هغې غلبې په سبب ورك سوي يا ګرزول سوي دي. پښتنو خو خپل کلي او کورونه پښتو بلل، او نومونه ئې پر ايښي وه، مګر وروسته دا نومونه په دې ډول محو يا ورو ـ ورو مفرس او معرب سوه، چې لا هم موږ د هغه پرېښوونه نسو کولاى.

ډېر سوچه او کره پښتو لغات او نومونه دي چې زموږ ميرزايانو وګرزول، بارد تصرفات ئې پکښې وکړه، مفرس ئې کړه.

د مثال په ډول يو وار د قندهار د کلو او لتو و نومو ته وګورئ، سپېروان پښتو نوم وْ، سفيد روان سي، روزګان په لا يعني تصرف ارزګان سو، تيرى ، تيرين سو، دېراوت، دهراود سو، زنګاوات زنګي آباد سو، ارغسان، ارغستان سو، ارغنداو ارغند آب سو.

مطلب دا دئ ملفوظ نوم ته چا اهميت نه ورکئ بلکي زيار ئې
کېښ چي هر نوم پر پاړسي ترکيب سم کړي، چي په پاړسي درلوونکي د يوې معنا وي، که څه هم هغه معنا له ځانه راوتلې وي او ډېره سخيفه وي.

د دې تفريس او تفرس احساس دومره قوي او ټينګ سو چې ځيني خاص پښتو نومونه لکه پوپل، سدو ، سهك امران، اخك هم ليکونکو واړول، او له ځانه ئې بارد تصرفات پکښې وکړل، مفرس ئې کړه، فوفل، صدو، اسحق، عمران، اچك ئې وليکل.

دا خو د هغو خلکو بې ځايه لاسوهنه وه چې دوی د پښتو د کلماتو له تلفظ څخه محروم وه، نو ئې د سوانۍ دپاره دغسي وليکل، مګر پښتانه ليکونکي چې د ژبې د اصلي او فطري شکل حاملان ګڼل کيږي، اوس لا هم ولي د دوی پيروي کوي؟

تر دې لا يوه بله مهمه خبره هم سته، چې ځيني خاص او کره پښتو لغات لرو، چې هغه په پاړسي او عربي کښې هم سته، مګر په بله معنا، اوس زموږ ځيني ليکونکي دغسي کلمات نه اخلي، او پردي ئې ګڼي، مثلاً : چاره ـ د راء په زورکي په پښتو کار ته وايي، په پاړسي چاره علاج بولي، راز په پښتو ډول او قسم ته وايي، په پاړسي سر ته وايي، زهير په پښتو خوابدي او خفه ته وايي، زحير په عربي د مرض نوم دئ، درد په پاړسي الم ته وايي، په پښتو درد قهر بولي، درد ورغی، يعنی قهرش آمد، دردمن قهرمان ته وايي، سال په پښتو ميده ريګ ته وايي، په

پاړسي خوکال دئ، ساخت په پښتو چرم ته وايي، په پاړسي ښه معنا لري ، رخت په پاړسي کالو ته وايي، په پښتو د کرهڼي يو شی دئ، نبات په عربي شنه کېدونکی شي ته وايي، په پښتو نبات قند او خواږه بولي.

په دې ډول ډېر کلمات سته چي عيناً په هغه شکل په بله ژبه بله معنا لري، داسي کلمات نه ښايي چي موږ ئې هېر کړو، يا يې پردي وګڼو. د کلو او ځايونو نومونه نه ښايي چي د زړو ميرزايانو په پيروي هغسي مسخ سوي وليکو هر څه چي ئې په پښتو بولو، هغسي بې ليکو، مزره په مزرعه نه بولو، سنچالا به شيخ چالاك نه ليکو، دا په زاړه ادب او علم کښې يو ټينګ اصل هم دئ، چي اسماء معلول په علت نه دي!

يعني د نوم ايښوولو دپاره کوم علت نه وي. د پښتو ليکونکي ښايي چي دې موضوع ته د غور کتنه ولري، او تر دې وروسته د پښتو لغات او نومونه مسخ نه کړي.[1]

---

[1]) طلوع افغان، ۱۳۱۷ لمريز کال، ۱۲ ګڼه، لومړی مخ.